پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۸/۰۴

# د استقلال د بیا گټلو د سلمې کلیزې په مناسبت





د خپلواکۍ د بیرته ترلاسه کولو سلمه کلیزه او زموږ ژمنه

د هیواد په گوټ گوټ کې پتمن افغانان د استقلال د سلمې کلیزې نمانځنې ته چمتووالی لري، له همدې اوس څخه د دوی په څیرو کې د خوښۍ، غرور او ملي یووالی نښې څرگندې دي. ډېره د خوشحالۍ خبره دا ده چې دا ځو کاله د رسمي او دولتي نمانځنې په پرتله ولسي نمامځنه ډیره توده او پرتمینه ده. یو څوک هغه وخت خپل احساسات نشي کابو کولای چې ټکسي چلوونکو پرخپلو موټرو، د هټیوال بیوزله شاگرد پرخپل بایسکیل، نانوای د خپلې هټۍ پرسر، لاس پلورنکي د خپلې ریړۍ دپاسه، عامو خلکود کورونو دپاسه ... لنده دا چې هر باتور هیوادوال دخپل خپلواک هیواد، ملي جنډې رپولې وي او په افغانۍ شهامت سره قدمونه اوچتوي. تیر کال د اسد په ۲۸مه په میلیونونه درې رنگه خولۍ وپلورل شوې، هغو ځوانانو چې د ټول کال یو څو روپۍ یې سپما کړې وې، په دغه ورځ یې ورباندی د ملي بیرغ دري رنگه لرونکې خولۍ پیرودلې او په ځانگړي غرور یې په سر کولې. درناوی او شاباس دې وي پر دغو ځوانانو او باتورملت !

خو روناندي، مطبوعات او سیاسیون ؟!

ډېره ضروري ده چې د ټولني ویښ قشر، یعني روناندي، ژمن مطبوعات او سیاستوال نه یواځې سرکال، بلکې هر کال په هر ملي مناسبت خپل درونډ رسالت باندې له سره فکر وکړي او یو ځل بیا ددغه بیوزله، خو باشهامته ملت په وړاندې خپل تعهد ته ځیر شي. زموږ تیرو نسلونو روناندو په دې برخه کې خپل مسئولیت ښه درک کړی و، دلته به د بیلگې په توگه د مشروطه غوښتونکو او دخپلواکۍ او ترقی د اتلانو هغې فداکارانه ژمنې او تعهد باندې خبرې وکړو، چې باید زموږ لپاره بیلگه او الگو وگرځي:



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د لومړي مشروطیت سرسپارلیو، خپل وطن، استقلال، عقیدې او افغانیت ته متعهدو ننګیالیو د امیر عبدالرحمن خان دخونړي قهر او ساتور لاندې د آزادی او خپلواکی زمزمه توده کړه، خو استبداد او ښکیلاک دوی یو یو او ډله ییز له منځه یوووړل، خو د خپلواکی غوښتلو غورځنګ او وینه نوره هم په جوش او خروش شوه، دا ځل د مشروطیت او استقلال دوهم غورځنګ راپورته شو. د مشروطیت د دویم غورځنګ غړیو سیده د مشروطیت دلومړی غورځنګ له قربانیو او په ناسیده توګه د افغانی سید له شاګرد محمود طرزي څخه الهام اخیست.

د دوهم مشروطیت غړی: په خپله محمود طرزی، عبدالهادی داوی ، میرسید قاسم خان، عبدالرحمان لودین، تاج محمد پغمانی، سیدغلام حیدر لغمانی(پاچا)،میرغلام محمد غبار، محمد انوربسمل، اویو شمیر نور وو. محمود طرزی د





علامه سید جمال الدین افغان او محمود طرزی (د افغانستان د مطبوعاتو پلار) او د استعمار او استبداد نامتو مبارزین

دی دوری د مشروطیت او استقلال غوښتني یو سرلاری و. د استبداد او استعمار ضد دغه منور مخکښ د استقلال لپاره په سراج الاخبار کې سنګر ونیو، دحی یاعلی الفلاح غږ یې اوچت کړ. سره له دې چې امیر حبیب الله د ده دغه غږ بی وخته وباله، خو د طرزی اراده لا هم پیاوړی وه. استعمار امیر حبیب الله خان او د ده څو درباریانو ته له روناندو ویره تلقین کړه او دټولو منورینو فزیکی له منځه وړل او د پوهې او معرفت د معنوی اعدام دستور یې ورکړ،

خو د پوهې کومه ډیوه چې طرزي او د ده پلویانو د غازی امان الله خان په ملاتړ ولګوله، لا ځلنده او بلنده را څرګنده شوه. دا چې سم له خپلواکی سره په هیواد کې په کم وخت کې د ارشاد النسوان، اتحاد مشرقی، افغان ورځپاڼې، د معرف معارف مجله (چې وروسته په آئینه عرفان او بیا په عرفان بدله شوه) ، د امان افغان اوونیزه، اردو مجلهٔ ، اتفاق اسلام

جریده، اتحاد جریده ، ابلاغ ورځپاڼه، بید ار جریده ، حقیقت ورځپاڼه، ستارهٔ افغان انتقادی جریده، طلوع افغان جریده رامنځته او بیلابیل کتابونه چاپ او خپاره شول، د همده د پاملرنې او زیار پایله وه. غازی امان الله خان د محمود طرزی دفکر ملاتړی او د هغه د خبرو رېښتنی منندوی او صادق عملی کوونکی و. د استقلال په بیاترلاسه کولو کې د دوهم مشروطیت د منورینو رول د هغو سرسپارلیو غازیانو له رول او فدارکاری څخه کم نه و، چې د آزادی ترسره شفق پوری یې د پاکو وینوسره لیکه وکښل شوه لکه عبدالله خان اڅکزی، امین الله خان لوګری،محمد عثمانخان تګاوی،نائب امین الله خان؛ محمدجانخان وردک؛ عبدالغفور لنګری، میربچـــــه

خان رس رسان کوهدامنی ، ملامشک عالم، میرمسجدی خان کوهستانی، گل محمد غلجی، دچکنور ملاصاحب، ملاپونده، د ځرخي کورنی او نور.



دا وخت منورینو او روښاندو د تاوده سنګر د مجاهدینو او ننګیالیو ترڅنګ د پوهي او د ولسونو د اذهانو د تنویر سنګر نیولی و، نو ځکه یي قربانی نشو



اروابناد غبار او عبدالهادی داوی د دوهم مشروطیت غړی

هیرولای. سعدالله خان الکوزی، مولوی محمدسرورخان( دحبیبی دمکتب ښوونکی)، محمد ایوبخان، جوهر شا خان، حان محمد خان، غلام محمد میمنګی، محمد حسن راقم، قاضی عبدالحق سلیمانخیل، عبدالهادی داوی او ګن شمیر نور هغه کسان وو چی د هیواد داستقلال دبیرته ګتلو په درشل کی یي سرونه فدا کړل یا یي سختی زولنی او بندیخانی تیرې کړی. د دغو منورینو قلم اوفکر د آزادی او خپلواکی د لاری مشالونه وو. د دغو مشال لرونکو په سر کې د سید جمال الدین افغان ذهین او مستعد شاګرد، محمود طرزی و. دغه د استعمار ضد سپاهی چې له خپلې درنې کورنی سره یوځای د امیر عبدالرحمن خان له خوا په ۱۸۸۱م. کې هند ته تبعید شوی و، د امیر حبیب الله خان پرمهال وطن ته راغلل او په ۱۹۱۱م. کال کې یې د سراج الاخبار پنځلس ورځنی جریده فعاله او په خپله یی مسئول مدیر شو. داسلام او استقلال دغه سپاهی د اسلام واقعی روح ته مبارزه وکړه، دعدالت چیغه یي پورته او د انګریز پلیده ځیره یي رسوا کړه. د اسلام پالني او استبداد ضد درسونه یی له سید څخه زده کړی و، او رسا قلم یی خپل کمال و. مستبدو حکامو او تور انګریزی ښیکلاک د ده د حی یاعلی الفلاح د مقالي تحمل ونشوکولای، نو ځکه یي د ده پر قلم بندیز ولګاو. خو طرزی خپل مقاومت او مبارزی ته دوام ورکړ.محمود طرزی د ښکیلاک لوی مخالف او د اسلامی اُمت د اتحاد ارمانجن د علامه سید جما ل الدین افغان ریښتنی شاګرد، د روښاندو په راټولولو کي لوی کار وکړ. ده په افغاسنتان کی د ۱۸۶۲ څخه تر ۱۸۷۸ کلونو پورې د سید جمال الدین افغان او امیر شیر علی خان هغه اصلاحی پروګرام ته چي له پورته خوا څخه را پیل شوی و، د امیر حبیب الله خان پر مهال دوام ورکړ. د انګریزانو نظامی تیری دغه اصلاحات شل کاله درولی و او د شلمی پیری تر پیل پوری په ټپه ولاړ پاتی و. د ۱۹۰۱ او ۱۹۱۸ کلونو تر منځ یو ځل بیا په افغانستان کی یو څه اصلاحات وشول او یو شمیر مدرسي ، جوماتونه او شخصی کتابتونونه جوړ شول ورسره یو ځای سوداګری پر مخ ولاړه او ورو ورو په ملی کچه تجارتی بورژوا راڅرګنده شوه، په تیره بیا د امیر عبدالرحمن خان له دوری څخه وروسته سوداګری ښه پر مخ ولاړه. په کابل کی بهرنی اخبارونه له یو لاس څخه بل ته رسول کیدل او د روښاندو په محفلونو کی به لوستل کیدل. دغه د منورینو کوچنی قشر په پیل کي د ملی سوداګریزو بورژوا ګانو او لبرال ځمکوالو، خورو- ورو خواریکښو او دمنځنی طبقي ځوانانو او تعلیم یافته منورینو استازیتوب کاو، وروسته یی

بيا د پاچا د بی پايه ځواک او قدرت د محدودولو ، د خپلواکی د بيرته تر لاسه کولو  او د قانون د رامنځته کولو په خاطر په فعاليت پيل وکړ.  تر ۱۹۱۸م. کال پورې د دويم مشروطيت غورځنګ مبارزه د همدوی د هڅو برکت و، چې ځوان امان الله خان هم د همدې منورينو يو غړی و، چې شعار يې دا و :



ترک مال وترک جان و ترک سر
در ره مشروطـه، اولِ منزل است



دوی د سرومال قربانی د مشروطيت غوښتنی لومړنی منزل او ګام بللی و، د مشروطه غوښتونکو سلسله يعنی له لومړی مشروطه غوښتنې تر دوهمی او بيا د دربار سری ګوند پورې ټول د افغاننستان ددغې دورې هغه منورين وو، چې د هيواد داستقلال، عدالت او ترقی دمبارزينو صفونه يې بللای شو. د دوی په وړاندی ښکيلاک، استبداد، بنسټپالی جهال او د ترقی ضد عقبګرايان موجود وو. په دې توګه استقلال ترلاسه کول او روڼتيا او ويښتيا دواړه ځنګ په ځنګ روان وو. د دغې دورې منورين دواړو ته متعهد وو. د دوی قربانی رنګ راوړ، ښکيلاک مات او استبداد پای وموند . په ۱۹۱۹م. کال افغانستان خپل استقلال اعلان او ورسره يو ځای يی د ترقی او پرمختګ منزل پيل کړ. افغانستان د عصری کيدو او نړئ سره دسيال کيدو خواته لومړنی ګامونه اوچتول  چې انګريزانو په مهارت سره يو څو دعلم، پوهې، معنويت او ترقی ضد کسان ولمسول. يو څو ساده بی خبره يې د ماهرو جاسوسانو په کتار کې ورګډ کړل او د مترقی نظام په وړاندی يی ودرول. دا وخت د استقلال د معرکې غازيانو ته نوی  ستونزه پيدا شوه چې هغه د انګريز دتالی څټو  هغه پاتی شونې وی چې د ترقی مخی ته خنډ وګرځيدې. د انګريز تالی څټو غازی امان الله او دهغه عصر منورينو پسې تبليغات پيل کړل او د ترقی خواته پورته کيدونکو اوچتو ګامونو ته خنډ شول. ډير ژر بيلابيلو ولايتونو کې د استقلال ملاتړي، د تنوير او روڼتيا پالونکي ملی مبارزين را پاڅيدل او دانګريزانو د دغو پاتی شونو په وړاندې ودريدل. دوی د حق او باطل داعيه ژوندۍ وساتله، دې ته حاضر نشول چې وطن بيرته تياری ته ولويږی. دوی نه غوښتل چې افغانستان بيرته  پرشا ولاړ شی، نو ځکه يی ځانونه قربان کړل. غازی امان الله خان  د دوی فداکاری له سترګو ونه غورځوله، دعلم او جهل څلی د پرانيستو په ورځبلکې د ريښتينو وطنپالو په توګه يې د دوی د درناوی په خاطر  د کابل د پخوانی ښار او  دده  د نقشه شوی نوی ښار(دارالامان) ترمنځ واټن کې د دوی په درناوی يو څلی جوړ کړی چې د علم او جهل د څلی نوم يی ورکړ.
د علم او جهل څلی د افغانستان په تاريخ کې د ترقی او آزادی غوښتونکو او بنسټپالو عقبګرايانو ترمنځ د مبارزی يو وياړلی سمبول دی. د دغه څلي په يو اړخ د هغه مهال ديو روناندی هنرمند خطاط سيدمحمدداوود الحسينی په

قلم د هغو شهیدانو نومونه ولیکل شول چی دتیارو په وړاندي وجنګیدل او شهیدان شول. دغه شهیدان د سید جمال الدین افغانی د افکار وارثین وو، چي پیغام رسوونکی یی لوی محمود طرزی او پالونکی یي غازی امان الله و. په افغانستان کي د تیاری او رڼا مبارزه، دعدالت او استبداد مقابله، د ترقی او شاتګ مقابله اوږده سابقه لری او لا هم روانه ده.

اوسنی نسل د خپل وخت هغه مبارزین دی چي د خپلو نیکونو په قدم به ګام ږدي او د مبارزی توغ به نه غورځوی. دوی په زغرده وایی چي : لا هم د علم او جهل جګړه روانه ده او په شدت سره روانه ده. اې خورو ورو همسنګرو سره یو شئ وخت د ننګ دی.

د هیواد آزادي اوآبادي، فکر او پوهي ته اړتیا لری، تیاره او ظلمت د بشر د کرامت سره نه ښایی، هغه ملتونه له خاورو پاڅیدل او د پرتم، عزت او دبدبی دریځ ته ورسیدل چي د ظلمت،خرافاتو، ناپوهي او تیاری په وړاندی یی مبارزه وکړه. د علم او جهل منار نه یواځي موږ ته په سرو وینو د ګټل شوی استقلال د ساتنی پیغام لری، بلکی د آبادی او ترقی لپاره د شهیدانو پیغام هم لری، نو ځکه یو ځل بیا یادونه کوو چي:



ډیره ضروري ده چي د ټولني ویش قشر، یعني روڼاندي، ژمن مطبوعات او سیاستوال نه یواځي سرکال، بلکي هر کال په هر ملی مناسبت خپل دروند رسالت باندي له سره فکر وکړی او یو ځل بیا د دغه بیوزله، خو باشهامته ملت په وړاندي خپل تعهد ته ځیر شي. دغازی امان الله خان له خوا د دغه ځلی جوړول یوه لویه فلسفه لری، هغه فلسفه چي موږ په غور او دقت ونه لوستله.

موږ سل کاله مخکي استقلال بیرته ترلاسه کړ او په میرانه مو وساته، خو د تیاری او جهالت په وړاندي سنګرونو کي بری نه وینو. اوسنی عصر تر توری، قلم ته زیات اهمیت ورکوي. دعلم او جهل په ځلی د شهیدانو نومونه موږ ته همدا پیغام راکوي چي د علم او جهل مبارزه باید دعلم په ګټه بریالیتوب ته ورسول شي.

**ژوندی دي وي د محمود طرزی او امان الله خان لاره او ارمان !**